بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ طه:١٤

لومړی برخه

# د لمانځه د هر توري پښتو ژباړه

دویمه برخه

# ځيني نفلي او د زيات ثواب لرونکي لمونځونه

---


د ستر محدث، مفسر، فقيه او صوفي علامه

**محمد معين الدين ابوالفضل** رحمه الله

له درسونو څخه

---

راټولوونکی: مولوي باقي باالله فضلي



١٤٠٢/٣/٢٥ هـ ش - ١٤٤٤/١١/٢٩ هـ ق

**د کتاب ځانګړتیاوې:**

**د رسالې نوم:** د لمانځه د هر توري ژباړه، او ځیني نفلي او زیات

ثواب لرونکې لمونځونه

**استاد:** علامه محمد معین الدین ابوالفضل رحمه الله تعالی

**راټولوونکی:** مولوي باقي بالله فضلي

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰

**د چاپ نېټه:** ۳۰/۱۱/۱۴۴۴

# فهرس


| عنوان | پ ا ڼ ه |
|---|---|
| د علامه ابوالفضل (رحمه الله) لنډه پېژندنه | ا |
| د علامه ابوالفضل ځيني آثار او تصانيف: | ب |
| سريزه | ج |
| لومړۍ برخه: د لمانځه د هر توري پښتو ژباړه | ۱ |
| د ملا او طالب لپاره يوه خبره | ۷ |
| عجيبه کيسه | ۳٦ |
| د شيطان نومونه | ۳۸ |
| دويمه برخه: ځيني نفلي او د زيات ثواب لرونکي لمونځونه | ۴۲ |
| سُنَنِ رواتِب | ۴۳ |
| د تهجد لمونځ | ۴۵ |
| د اشراق لمونځ | ۴۸ |
| د څاښت لمونځ | ۴۹ |
| د اوّابِين لمونځ | ۵۱ |
| تحية المسجد | ۵۲ |
| تحية الوضوء | ۵۲ |
| د استخارې لمونځ | ۵۳ |

| | |
|---|---|
| د حاجت لمونځ | ٥٦ |
| د توبې لمونځ | ٥٧ |
| د تسبیح لمونځ | ٥٨ |
| د شکرانې لمونځ | ٦٠ |
| د کسوف لمونځ | ٦٠ |
| د خسوف لمونځ | ٦٢ |
| د استسقاء لمونځ | ٦٣ |

# د علامه ابوالفضل (رحمه الله) لنډه پېژنده

**علامه محمد معين الدين ابوالفضل** رحمه الله چې د لدُني علم خاوند، فقيه، محدث، مفسر، متصوف، شاعر اوصاحب الكرامات شخصيت و، د حنفي فقه پيرو، او په تصوف کې د ماتريدي، نقشبندي او بانوري طريقو لاروی و.

اصلي وطن يې د کندهار ولايت شاه وليکوټ ولسوالۍ د بوري کلی ده، او غالبا په ۱۳۷۹ هـ ق کې، د غزني ولايت ګيلان ولسوالۍ اغوجان د چمبرانو په کلي کې زېږېدلی، په ختهه ترَکی، بدين خېل دی. د زده کړې ټوله موده يې درې نيم کاله وه ، او ۴۸ کلونه يې په تعليم، ښوونه او عبادت کې تېر کړل.

**وفات:** د ۱۴۴۲ هـ ق د رجب په اومه، د جمعې په شپه د هجرت ديار پاکستان کويټه کې د ٦٣ کلونو په عمر له دې فاني نړۍ څخه وکوچېده.

**د کرامت نمونه:** له وفات وروسته يې له قبر او له هغه اتاق څخه چې دی پکې اوسيده، دوامداره جنتي خوشبويي راپورته شوه. رحمه الله تعالى رحمة واسعة و قدس الله سره

## د علامه ابوالفضل ځيني آثار او تصانيف:

۱- **فضل الرحيم في تفسير القرآن الكريم** (پښتو. چاپ: لومړني څلور او اخيرنی سيپاره، سورت انفال، سورت يس او سورت ملک)

۲- **فضل الباري شرح صحيح البخاري** (پښتو. چاپ: لومړی ټوک)

۳- **فضل القوي شرح سنن الترمذي**. (پښتو، چاپ: لومړی ټوک)

٤- **فضل الغني شرح مختصر القدوري** (پښتو)

۵- **هداية المجاهدين** (پښتو).

٦- **كتاب الاذكار** (پښتو)

۷- **مجموعة الرسائل**، پښتو (ميلاد النبي، محرم الحرام او د کربلا شهيدان، څلور مذهبونه او له هغوی څخه انحراف، رمضان المبارک)

۸- **فضل اللاهوت شرح مسلم الثبوت** (عربي، د چاپ نېټه: ۱۴۰٦ هـ.ق)

۹- **حق البيان شرح بديع الميزان**(عربي، د چاپ نېټه: ۱۴۰۸ هـ.ق)

۱۰- **فضل المتعال شرح كتاب ملاجلال** (عربي، د چاپ نېټه:۱۴۲۴ هـ.ق)

۱۱- **فضل الله شرح حمدالله** (عربي، د چاپ نېټه: ۱۴۲۴ هـ.ق)

**او نور بې شمېره درسي مواد او نصائح**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# سريزه

**الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على قائد الغر المحجلين وعلى آله واصحابه اجمعين.**

ګرانو ورونو او خويندو !

ستاسو خادم ابوالفضل محمد معين الدين عفا الله عنه ددينې خدمتونو په لړ کې دا ځل د لمانځه معنى ستاسې حضورته وړاندې کوم.

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده، چې لمونځ په اسلام کې د شهادت تر کلمې وروسته لومړی عبادت دی، او هر مسلمان يې په ورځ او شپه کې پنځه واره تر سره کوي، او موږ په دې امر شوي يو چې دا ستر عبادت په ډېر خشوع او عاجزی سره ادا کړو، ددې لپاره چې لمونځ مو په ښه ډول او په خشوع او خضوع سره ادا کړې وي مهمه ده چې دلمانځه د تورو په معنى او مطلب ځان پوه کړو.

لومړی برخه

# د لمانځه د هر توري

# پښتو ژباړه

## تکبير

يعني: (اللهُ أَكبَر)

**ترجمه:** (اَللّٰهُ) الله پاک (اکبر) ډېر لوی دی [يا] لوی دی تر هر چا.

## ثناء

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالى جَدُّكَ، وَلَا إلٰهَ غَيْرُكَ.

**ترجمه:** (سُبْحَانَ) پاکي ويل (كَ) ستا، يعنې پاکي وايم پاکي ويل ستا (يا يې داسې معنی وکړئ:) (سُبْحَانَكَ) په پاکي ويلوستاسره، يعنې پاکي وايم په پاکي ويلو ستا سره (اللّٰهُمَّ) اې الله ! (وَبِحَمْدِكَ) سره له ثنا ويلو ستا [يا يې داسې معني وکړئ:] (وبحمدك) په توفيق ستا سره. (وَ تَبَارَكَ) او ډېر لوی دی [يا] ډېر برکتناک دی (اسْمُ) نوم (كَ) ستا (وَتَعَالی) او ډېر لوړ دی (جَدُّ) شان (كَ) ستا. يعنې ډېر لوړ دی کار او صفت ستا، له شان څخه مراد کار او صفت د الله پاک دی، د کار مثال يې لکه پيداکول، رزقورکول، صحت ورکول، او د صفت مثال يې لکه علم اوقدرت د الله پاک. (وَلَا) او نشته (إِلَهَ) هيڅ لايق د عبادت (غَيْرُ) غير(كَ) ستا، يعنې له تا بل لايق د عبادت نشته.

## تعَوُّذ

یعني: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطانِ الرَّجِیْمِ)

**ترجمه:** (أعُوذُ) پناه غواړم زه (بِاللهِ) په الله پاک (مِنَ الشَّیْطَانِ) له شیطانه (الرَّجِیمِ) رټل شوي، یا ویشتل شوي په لعنت سره، یا لیرې شوي له رحمت د خدای څخه (یعني پناه غواړم په الله پاک له هغه شیطان څخه چې الله پاک له خپل رحمت څخه شړلی دی).

## تَسمِیَه

یعني: (بسم الله الرحمن الرحیم)

**ترجمه:** (بِسْمِ) یوازې په نامه (اللهِ) د خدای پاک (الرَّحْمنِ) چې پر هر چا مهربانه دی یعني په دنیا کې (الرَّحِیمِ) چې پوره مهربانه دی، یعنې په آخرت کې چې دا مهربانې یوازې پر مومنانو ده. [شروع کوم].

**یادونه:** د بسم الله په معنی کې د شروع کوم لفظ به د معنی په پای کې ویل کېږي، تر څو د عربي ژبې د قانون له مخې په معنی کې تخصیص او حصر افاده شي، کوم چې مطلوب دی، یعنې معناً به دا ډول شي چې خاص او یوازې د الله په نامه چې رحمن او رحیم دی شروع کوم.

## سورةُ الفاتحة

الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (١) الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ (٢) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٣) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ(٤) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٥) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (٦) غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (٧).

**ترجمه:** (الْحَمْدُ) هر ثنا او صفت (لله) خاص الله جل جلاله لره [دی] (رَبِّ) چې پالونکی دی، یا مالک دی، یا بادار دی (العَالَمِينَ) د ټولو عالمیانو، یعني داسې الله چې پالونکی او تربیه کوونکی د ټولو عالمیانو دی. (الرَّحْمنِ) چې مهربانه دی په دنیا کې پر هر چا (الرَّحِيمِ) چې مهربان دی په آخرت کې یوازې پرمومنانو (مَالِكِ) چې خاوند دی (یوم) د ورځې (الدِّينِ) د جزا، یعني داسې الله چې د قیامت په ورځ چې خلکو ته د خیر او شر جزا ورکول کیږي، په ښکاره او په پټه کې د هر شي مالک دی، په دې معنی چې په دنیا کې خو که څه هم حقیقي مالک الله جل جلاله دی، مګر په ظاهره مثلا انسانان هم د رنګارنګ شیانو مالکان بلل کیږي، خو دقیامت په ورځ به په ښکاره او پټه یوازې الله پاک د هر شي مالک وي، بل به هیڅ څوک هم د مالکیت دعوا نه لري او نه به مالک بلل کیږي.

﴿إِيَّاكَ﴾ خاص تا لره، يعنې اې الله خاص تا ته ﴿نَعْبُدُ﴾ عبادت كوو موږ، يعنې ځكه چې له تا پرته بل هېڅ څوک د عبادت لايق نه دی ﴿وَإِيَّاكَ﴾ او خاص له تا ﴿نَسْتَعِينُ﴾ مرسته غواړو موږ، يعنې په عبادت او نورو ټولو كارونو كې له تا مرسته غواړو؛ ځكه ستا بې مرستې موږ هېڅ كار هم نه شو كولای. ﴿اِهْدِ﴾ وښيه ﴿نَا﴾ موږ ته ﴿الصِّرَاطَ﴾ لار ﴿الْمُسْتَقِيمَ﴾ برابره، ياېې داسې معنى وكړئ: ﴿اِهْدِ﴾ روان كړه ﴿نَا﴾ موږ ﴿الصِّرَاطَ﴾ پر لار ﴿الْمُسْتَقِيمَ﴾ برابره باندې، يعنې اې الله ! موږ ته په هر شي كې د سمې او برابرې لارې هدايت وكړه. ﴿صِرَاطَ﴾ لار ﴿الَّذِينَ﴾ دهغو خلكو ﴿أَنْعَمْتَ﴾ چې انعام كړی دی تا، لورېينه كړې ده تا ﴿عَلَيهِم﴾ پر دوی باندې. [چې هغه څلور ډوله نژدې بندګان د الله دي، لكه انبياء، صديقين، شهدآء او صالحين]. ﴿غَيرِ﴾ چې غير دي، يعنې چې ماسوا دي دغه خلک چې تا احسان او نعمت باندې كړی دی ﴿الْمَغْضُوبِ﴾ له هغو خلكو څخه چې غضب پرې شوی دی ﴿عَلَيهِمْ﴾ پر دوی باندې ﴿وَلَا﴾ او نه ﴿الضَّالِّينَ﴾ هغه خلک دي چې ګمراهان دي، يعنې د هغو خلكو دلارې ښوونه راته وكړه، چې نه ستا غضب ور باندې شوی وي، او نه ګمراهان دي.

﴿آمين﴾ زما دعا قبوله کړه، يعنې اې ربه کومې دعاوې چې د «الحمدلله» په سورت کې ما وويلې هغه دعاوې مې قبولې کړې.

**يادونه:** له «الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ» څخه يهوديان مراد دي او له «الضَّالِّينَ» څخه نصارى يعنې عيسايان مراد دي.

## درکوع تسبيح

﴿سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ﴾

**ترجمه:** ﴿سُبْحَانَ﴾ [پاکي وايم] پاکي ويل ﴿رَبِّيَ﴾ د رب زما ﴿الْعَظِيمِ﴾ چې ډېر لوی دی [د ذات او صفتونو په اعتبار].

**يادونه:** د «سبحان ربِّي» تر معنی له مخه به دا توري له ځانه ورسره ويل کېږي چې پاکي وايم، تر څو د عربي ژبې د قانون له مخې يې معنی سمه راشي.

## تسميع او تحميد

﴿سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ﴾

**ترجمه:** ﴿سَمِعَ﴾ اوري، يعنې قبلوي ﴿اللهُ﴾ الله پاک، يعنې دُعا او حمد ويل قبلوي ﴿لِمَنْ﴾ د هغه چا ﴿ حَمِدَهُ﴾ چې حمد ووايي د ده، يعنې د

الله پاک. (رَبَّنَا) اې ربه زموږ (لَكَ) خاص تا ته [دي] (الحَمْدُ) هر حمد، هر ثنا او نیک صفت.

**یادونه:** د «سَمِعَ الله» د لفظ اصلي معنی داده چې: اوري یا اوریدلَی دی الله پاک، خو دلته یې معنی داسې کېږي چې قبلوي الله پاک، او تر لمن حمده مخکې به دا جمله ورسره لحاظیږي چې یعنې دعا او حمد قبلوي.

## د ملا او طالب لپاره یوه خبره

د«حَمِدَه» په اخیر کې چې کومه هاء ده، ځینې علماء وایي چې دا د ضمیر ها نه بلکې د استراحت او سکتې هاء ده، نو د «حَمِدَ» مفعول محذوف دی **(مراقي الفلاح)**

او یا د واحد مذکر غائب ضمیر او د حمد مفعول دی. **(مستصفی)**

او په «رَبَّنَا وَ لَكَ الحَمْدُ» کې واو یا زائد او یا عاطفه دی معطوف علیه یې محذوف دی، په دې ډول: «رَبَّنَا حَمِدْنَاكَ وَلَكَ الحَمْدُ»

**مسئله:** د «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه» له ویلو وروسته د «رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ» په څلور ډوله الفاظو نقل شوی دی:

(۱): اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ

(۲): اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ

(۳): «رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ»

(۴): «رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ»

تر ټولو افضل اول، بیا دوهم، بیا دریم او بیا څلورم دی.

او په یوه روایت کې راغلي چې اصحابو د نبي علیه السلام په امامت کې لمونځ کاوه، چې یوه نفر په لوړ اواز داسې وویل: «رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ»، کله چې لمونځ خلاص شو، نو ده مبارک پوښتنه وکړه چې دا کلمات چا وویل؟ هغه صحابي جواب ورکړ چې ما وویل، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ما تر ۳۰ دیرش ډیرې فرشتې ولیدلې چې هرې یوې دا هڅه کوله چې ددغه صحابي دا کلمه اول ولیکي.

که کوم څوک یوازې لمونځ کوي نو تر ربنا لكَ الحمد وروسته پورته الفاظ اضافه کولای شي، البته امام یې باید ونه وایي تر څو لمونځ اوږد نه شي.

**مسئله:** مقتدي به یوازې رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ وایي، او که یوازې لمونځ کوي نو دواړه به وایي، او د امام په هکله د مشائخو تر منځ اختلاف

دی، د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد امام به يوازي سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وايي، فتوی هم پر همدې قول ده، خو ياران وايي بلکې د امام ابوحنيفه يو قول هم همدا دی، چې د امام لپاره افضل او بهتر دادی چې تر سمع الله لمن حمده وروسته رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ ووايي، زموږ د حنفي مذهب د متاخرينو ډيرو مشائخو دغه اخيري خبره راجحه بللې ده، خو دا اختلاف صرف په افضليت کې دی.

## د سجدې تسبيح

(سُبْحانَ رَبِّيَ الْاَعْلَى)

(سُبْحَانَ) پاکي ويل، يعنې پاکي وايم پاکي ويل (رَبِّي) د رب زما (الاَعْلَى) چې ډېر لوړ دی، يعنې چې ډېر لوړ دی په رتبه او مقام کې؛ ځکه دده رتبه د واجب خالق، او مالک ده، او زموږ رتبه د ممکن، مخلوق او مملوک ده.

## تَشَهُّد

(التَّحِيَّاتُ للهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ)

**ترجمه:** (التَّحِيَّاتُ) ټول قولي عبادتونه، یعنې هغه عبادتونه چې په خوله او ژبه ادا کیږي (لِلهِ) خاص الله لره دي (وَالصَّلَوَاتُ) او ټول بدني عبادتونه (وَالطَّيِّبَاتُ) او ټول مالي عبادتونه، یعنې د قولي عبادتونو په څېر ټول بدني او مالي عبادتونه هم خاص الله پاک ته ثابت دي (السَّلَامُ) سلام دې وي (عَلَيكَ) پر تا باندې (أَيُّهَا النَّبِيُّ) اې نبي (وَرَحْمَةُ) او مهرباني دې وي (اللّٰهِ) د الله پاک، یعنې پر تا باندې (وَبَرَكَاتُهُ) او برکتونه د ده دې وي، یعنې برکتونه د الله پاک دې وي پر تا باندې. (السَّلَامُ) سلام دې وي (عَلَينَا) پر موږ باندې (وَ) او (عَلَى) پر (عِبَادِ) بندګانو باندې (اللّٰهِ) د الله پاک (الصَّالِحِينَ) چې نېکان دي، یعنې او سلام دې وي پر ټولو هغو بندګانو چې صالحان او نېکان دي (أَشهَدُ) شاهدي وایم زه (أَن) په دې باندې چې بېشکه (لَا) نشته (إِلٰهَ) هیڅ لایق د عبادت (إِلَّا) ماسوا (اللّٰهُ) له الله پاکه (وَأَشهَدُ) او شاهدي وایم زه (أَنَّ) په دې باندې چې بېشکه (مُحَمَّدًا) محمد ﷺ (عَبدُهُ) بنده دده دی (وَ) او (رَسُولُهُ) رسول د ده دی.

## د التحيات د معنى د ښه وضاحت لپاره يو څو خبرې

**يادونه:** پورته تشهد ته د عبدالله بن مسعود تشهد وايي، چې په صحيح البخاري او صحيح مسلم دواړو کې رانقل شوی دی.

### ظاهري عبادتونه پنځه قسمه دي:

لومړی قولي عبادتونه. دوهم: بدني عبادتونه. دريم هغه عبادتونه چې قولي او بدني دواړه وي. څلورم مالي عبادتونه. پنځم: هغه عبادتونه چې مالي، بدني او قولي دري واړه وي.

١- قولي عبادتونه هغه دي چې په ژبه او خوله ترسره کېږي، لکه تلاوت، ذکر او لکه په لمانځه کې «سبحانک اللهم وغيره» ويل.

په تشهد کې د التحيات له لفظ څخه قولي عبادتونه مراد دي.

٢- بدني عبادتونه هغه دي چې له ژبې پرته د بدن په نورو اندامونو ترسره کېږي، لکه په لمانځه کې ولاړه، رکوع او سجده. په تشهد کې له «والصلوات» څخه بدني عبادتونه مراد دي.

٣- هغه عبادت چې قولي او بدني دواړه وي، لکه لمونځ چې له قولي او بدني عبادتونو دواړو څخه جوړ دی.

٤- مالي عبادت هغه دی چې په مال سره وي لکه زکوة ورکول، سرسايه ورکول او داسي نور.

٥- هغه عبادت چې هم قولي، هم بدني اوهم مالي وي لکه حج کول.

په تشهد کې له «والطيبات» څخه مالي عبادتونه مراد دي، عام له دې که قولي او بدني عبادتونه يو يا دواړه ورسره وي او که نه وي ورسره، نو د عبادت پنځه سره قسمونو ته په «التحيات لله والصلوات والطيبات» کې اشاره وشوه، چې د بندگی ټول دغه انواع الله پاک لره دي.

## ابراهيمي درود شريف

اللّهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلى إِبْرَاهِيمَ وَعَلى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّهُمَّ بَارِكْ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلى إِبْرَاهِيمَ وَعَلى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. **رواه البخاري**

**ترجمه:** (اَللَّهُمَّ) اې الله (صَلِّ) رحمت نازل کړه (عَلى) پر (مُحَمَّدٍ) محمدﷺ باندې (وَعَلَى) او پر(آلِ) آل باندې (مُحَمَّدٍ) د محمد ﷺ (كَمَا) په مثل ددې (صَلَّيْتَ) چې نازل کړې دی تا رحمت خپل (عَلى) پر (إِبْرَاهِيمَ) ابراهيم عليه السلام باندې (وَ عَلَى) او پر (آلِ ) آل باندې (إِبْرَاهِيمَ) د ابراهيم عليه السلام (إِنَّكَ) بيشکه ته [اې الله] (حَمِيدٌ) محمود يې، يعنې ستايل شوَی يې (مَجِيدٌ) خاوند د پوره لويي يې، ډېر

لوی یې ﴿اللَّهُمَّ﴾ اې الله ﴿بَارِك﴾ نازل کړه برکت ﴿عَلى﴾ پر ﴿مُحَمَّدٍ﴾ محمد ﷺ باندې ﴿وَعَلى﴾ او پر ﴿آلِ﴾ آل باندې ﴿مُحَمَّدٍ﴾ د محمد ﷺ ﴿كَمَا﴾ په مثل ددې ﴿بَارَكْتَ﴾ چې برکت نازل کړی دی تا ﴿عَلَى﴾ پر ﴿إِبْرَاهِيمَ﴾ ابراهیم علیه السلام باندې ﴿وَعَلى﴾ او پر ﴿آلِ﴾ آل باندې ﴿إِبْرَاهِيمَ﴾ د ابراهیم علیه السلام ﴿إِنَّكَ﴾ بېشکه ته، [اې الله] ﴿حَمِيدٌ﴾ محمود یې، یعنې ستایل شوَی یې ﴿مَجِيدٌ﴾ ډېر لوی یې.

## دعا

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

**ترجمه:** ﴿رَبَّنَا﴾ اې ربه زموږ ﴿آتِنَا﴾ راکړه موږ ته ﴿فِي الدُّنْيَا﴾ په دنیا کې ﴿حَسَنَةً﴾ ښه ژوند ﴿وَ﴾ او ﴿فِي الآخِرَةِ﴾ په آخرت کې ﴿حَسَنَةً﴾ ښه ژوند ﴿وَقِنَا﴾ او وساته موږ ﴿عَذَابَ﴾ له عذاب څخه ﴿النَّارِ﴾ د اور .

**خلاصه:** یعنې اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا او اخرت کې ښه ژوند رانصیب کړه، او ستا له عذاب څخه چې د جهنم اور دی موږ وساته.

## د اللهم ربنا د دعا په هکله څه مهم وضاحت

**لومړی خبره:** د «حَسَنَةً» په تفسیر کې علماوو بېلابېل قولونه ویلي، غوره تفسیر یې دا دی چې د دنیا له حَسَنې څخه مراد هر هغه

شَی دی چې د انسان د دنیا د ژوند ښه والی پرې راځي، د دین یا د دنیا په لحاظ، د دنیا په لحاظ لکه صحت عافیت، فراخ او حلال رزق، غوره او صالح مېرمن، صالح اولاد او نور، او د دین په لحاظ چې د ژوند ښه والی پرې راځي لکه علم عبادت او تقوی.

او د آخرت له حَسَنې څخه مراد هر هغه شی دی، چې له مرگ څخه وروسته بیا تر ابده پورې د انسان حال او ژوند پرې ښه کېږي، لکه د قبر او حشرگاه له عذابونو او له دوزخ څخه نجات، دارنگه د الله پاک د رضا، جنت، او قرب الهي حصول وغیره.

**دوهمه خبره:** دا دعا له بهترینو دعاگانو بلل شوې ده؛ ځکه سره له دې چې ډېره مختصره ده، خو د دنیا او آخرت ټولو حاجتونو او مقصدونو ته ورشامله ده.

**دریمه خبره:** دا دعا به رسول الله ﷺ ډېره ویله، له حضرت انس رضي الله عنه څخه نقل دی چې: «كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ ﷺ : اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». یعني زیاته دعا د نبي ﷺ دا دعا وه: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». **(صحیح البخاري وصحیح مسلم)**

صاحب د تفسير قرطبي ليکلي چې دا دعا له جامعو دعاګانو څخه ده، چې د دنيا او آخرت ښېګڼو ته ورشامله ده، په تفسير ابن کثير کې دي چې الله پاک په قرآن کريم کې د هغه چا صفت کړی دی، چې هغه له الله پاک څخه د دنيا او آخرت د حاجتونو سوال کوي، يعني همدغه دعا وايي، لکه چې فرمايي: «وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»

## تسليم (سلام)

## (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ)

**ترجمه:** (السَّلَامُ) سلام دي وي (عَلَيكُمْ) پرتاسو باندې (وَ) او (رَحْمَةُ) رحمت دي وي (اللهِ) د الله پاک،يعني پر تاسو باندې.

**مسئله:** د السلام عليکم... د ويلو پر مهال به د ځان، حفظه ملائکو، پېريانو او هغو مسلمانانو نيت کوي کوم چې په لمانځه کې درسره شريک وي، که دې په جماعت لمونځ کاوه او په امام پسې سيده ولاړ وي، نو په دواړو سلامونو کې به د امام نيت هم کوي، اوکه له امام څخه راسته طرفته وي، نو چې چپ طرف ته سلام

ګرځوي د امام نيت به ورسره کوي، او که د امام په چپ طرف کې وي، نو چې راسته طرفته سلام ګرځوي د امام نيت به ورسره کوي، او که دې يوازې لمونځ کاوه، نو د ځان، حفظه فرشتو او پېريانو نيت به په دواړو سلامونو کې کوي، نو د «السَّلَامُ عَلَيكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ» مطلب دا دی چې سلام دې وي پر تاسو باندې اې زما ځانه ! او اې حفظه ملايکو او اې دلته حاضرو پېريانو او لمونځ کوونکو مومنانو او اې امامه!

## تر سلام ګرځولو وروسته

د صحيح مسلم حديث دی چې رسول الله ﷺ به چې کله د (فرض) لمانځه وروسته سلام وګرځاوه، نو درې ځله به يې استغفار او يو ځل به يې لاندې دعا ويله: أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ.

(أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ) بخشه غواړم له الله پاک څخه (اللّٰهُمَّ) اې خدايه ! (أَنْتَ) ته (السَّلَامُ) روغ او سالم يې، يعنې له هر عيب څخه (وَمِنْكَ) او خاص له تا څخه ده، يعنې يوازې ستا له لورې ده

(السَّلَامُ) سلامتيا، يعنې روغتيا او سلامتيا يوازې ستا په لاس کې ده، چې هر چا ته وغواړې ورکوې يې او چې نه يې وغواړې نه يې ورکوې. (تبارکتَ) ډېر د برکت والا يې ته (يَا ذَا الجَلالِ) اې خاونده د لويي (والاکرامِ) او د احسان او مهرباني، يعنې اې د بزرگی او مهربانی مالکه !

## دعاء قنوت

(اَللّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ، وَنَسْتَهْدِيكَ، وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنَتُوبُ إِلَيْكَ، وَنُؤْمِنُ بِكَ، وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ، وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، وَنَشْكُرُكَ وَلاَ نَكْفُرُكَ، وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ. اللّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ الْجِدَّ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ.)

**ترجمه:** (اللّهُمَّ) اې الله (إِنَّا) بېشکه موږ (نَسْتَعِينُكَ) مرسته غواړو له تا څخه، يعنې ستا په عبادت او په ټولو جائزو او روا کارونو کې خاص له تا څخه مرسته غواړو (وَ) او (نَسْتَهْدِيكَ) هدايت غواړو له تا څخه، يعنې له تا څخه غواړو چې د هر هغه کار لارښوونه راته وکړې چې په هغه ته راضي کېږې، دارنګه په هره برخه کې موږ ته

لا رښوونه وکړې. ﴿وَنَسْتَغْفِرُكَ﴾ او بخښنه غواړو له تا څخه ﴿وَ نَتُوْبُ﴾ او رجوع کوو[درګرځو] موږ ﴿اِلَيكَ﴾ تا ته [له ګناهونو څخه] یعنې له ګناهونو څخه توبه باسو ﴿وَنُؤْمِنُ﴾ او ایمان لرو ﴿بِكَ﴾ په تا باندې، یعنې په دې ایمان لرو چې ته حق یې، ازلي او ابدي یې، شریک نه لرې، خاوند د ټولو کاملو صفتونو یې او پاک یې له ټولو ناقصو صفتونو څخه. ﴿وَ نَتَوَكَّلُ﴾ او توکل کوو موږ ﴿عَلَيكَ﴾ پر تا باندې، یعنې په دې ډول چې خپل ټول کارونه تاته سپارو، ځکه موږ عاجزه یو ﴿وَنُثْنِي﴾ او ثنا وایو ﴿عَلَيكَ﴾ پر تا باندې ﴿الخَيرَ﴾ د خیر ﴿كُلَّهٗ﴾ هره ثنا د خیر، یعنې اې الله ! موږ ستا حمد او ثنا وایو او په هر خیر او ښه صفت سره ستا لکه عالم، قادر، خالق وغیره ستا صفت کوو ﴿وَنَشْكُرُكَ﴾ او شکر کوو موږ ستا، یعنې ستا د نعمتونو شکر ادا کوو او وایو یې ﴿وَلَا نَكْفُرُكَ﴾ او ناشکري نه کوو ستا ﴿وَنَخْلَعُ﴾ او کاږو موږ، یعنې لیرې کوو موږ ﴿وَنَتْرُكُ﴾ او پرېږدو موږ ﴿مَنْ﴾ هر هغه څوک ﴿يَفْجُرُ﴾ چې مخالفت کوي ﴿كَ﴾ ستا، یعنې اې الله د هر باطل تابعداري او تعلق موږ له ځانونو لیرې کوو، هېڅ تابعداري یې نه کوو او هر څوک چې له تا او ستا له دین څخه مخ اړوي، ستا مخالفت

کوي موږ له هغه مخ اړوو، او پرېږدو يې. (اللّهُمَّ) اې الله (إِيَّاكَ) خاص ستا (نَعْبُدُ) عبادت کوو موږ (وَلَكَ) او خاص تا ته (نُصَلِّي) لمونځ کوو موږ (وَ) او، يعنې او خاص تا ته (نَسْجُدُ) سجده کوو موږ (وَ إِلَيكَ) او خاص تا ته (نَسْعى) منډه کوو موږ، تېز درځو، مراد له منډې او تېز تللو ښه، ډېر کوښښ کول دي په عبادت کې (وَنَحْفِدُ) او چټکې کوو موږ، ستا په عبادت کې (وَنَرْجُو) او امېد کوو موږ (رَحْمَتَكَ) د مهرباني ستا، يعنې موږ د دې امېد کوو چې همېشه ته پر موږ مهرباني کوونکی شې (وَنَخْشٰى) او وېرېږو موږ (عَذَابَكَ) له عذابه ستا (إِنَّ) بېشکه (عَذَابَكَ) عذاب ستا (الجِدَّ) چې حق دی (بِالْكُفَّارِ) په کفارو پسې (مُلْحِقٌ) پیوسته کېدونکی دی.

## د دعاء قنوت اړوند څه وضاحت

**۱: مسئله:** په وترو کې د دعاء قنوت لپاره کوم ځانګړي الفاظ نشته، چې خاص به هماغه ويل کېږي، البته په احاديثو کې پر دغه پورته دُعا چې معنی يې وشوه، ډېر تاکيد شوی دی، نو ځکه ددغې دُعا په وترو کې ويل اولی او بهتر دی، که د چا پورته دعا حفظ نه وي، نو تر څو چې يادوي يې پر ځای يې دغه دعا «اللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا

حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً» يا درې واره «اللَّهُمَّ اغْفِرلِي» هم ويلای شي. **(هنديه)**

**۲- د مُلْحُق لفظ** مُلْحَقٌ (په فتحه د حاء) او مُلْحِقٌ (په زېر دحاء) دواړه ويل روا دي، خو ډېر فصيح او ښه مُلْحِق يعنې په زېر د حاء سره دی، د مُلْحَق، معنی پيوسته کېدونکی ده، او د مُلْحِق (په زېر د حا سره) اصلي معنی ده پيوسته کوونکی، يعنې چې يو شی په بل شي پسې پيوسته کوي، پسې نښلوي يې، دا معني دلته نه صحيح کېږي، نو دلته يې معنی داده: پيوسته کېدونکی. **[طحطاوي مع المراقي]**

**۳-** عموماً چې خلک په وترو کې دعاء قنوت وايي نو هغه په دې ډول دی چې تر «وَنَسْتَعِينُكَ» وروسته د «وَنَسْتَهْدِيكَ» لفظ نشته، او تر «نَشْكُرُكَ» له مخه واو دی، دارنګه تر «نَرْجُو» له مخه واو سته او له «اِنَّ عَذَابَكَ» وروسته د «الجِدَّ» لفظ نشته، همدارنګه په اخير د دعاء قنوت کې درود هم نسته، خو په مراقي الفلاح او طحطاوي کې يې دعاء قنوت هغه ډول راوړی دی کوم چې پورته يې ترجمه وشوه، او په حديث د ابن ابي شيبه، عبدالرزاق او بيهقي کې (رحمهم الله تعالی) هم همداسې دی، البته صحيح دواړه ډولونه دي، خو افضل د مراقي الفلاح الفاظ دي.

**۴ مسئله:** له دعاء قنوت  وروسته ښه دا دی چې  درود هم  وویل شي، مثلا داسې دې وویل شي  «اللّهُمَّ صَلِّ عَلی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ» په درمختار کې دی چې له دعاء قنوت وروسته دې درود پر نبي ﷺ باندې وایي، او پر همدې خبره فتوا ده،  او په مراقي الفلاح او طحطاوي کې هم همداسې دی.

**۵ مهمه خبر:** هر مسلمان باید په دې پوه شي او فکر وکړي، چې دَی هر ماخستن یوازې د وترو په دعاء قنوت کې الله پاک ته څومره اقرارونه کوي، او بیا په دې ځان پوه کړي چې دَی په دغو اقرارونو کې  څومره صادق دی؟

ډېر خلک د دعاءِ قنوت د هرې جملې په ویلو سره یوه یوه ګناه کوي،او مخامخ الله پاک ته دروغ وایي، تفصیل  ددې خبرې دا دی چې موږ په دعاءِ قنوت کې په لاندې توګه  لس رنګه اقرارونه الله جل جلاله ته هره شپه کوو:

**اول-** الله پاک ته دا اقرار کوو، چې «اللّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِینُكَ» یعنې موږ له تا په هر کار کې کومک غواړو، نو باید په ځان کې وګورو چې موږ په دغه اقرار کې صادقان یو؟ ایا ربښتیا هم د الله پاک کومک ته متوجه یو او بل هیڅ داسې چاته طمع د کومک نه کوو چې الله پاک

په ناراضه کېږي او که څنګه ؟ بلکې دومره کوو چې د دغو الفاظو «اللّهُمَّ اِنَّانَسْتَعِينُكَ» د ويلو په وخت مو زړه د دغې جملې معنی ته متوجه وي او په حضور د زړه سره يې وايو او که څنګه ؟

**دوهم:** دا اقرار کوو چې «وَنَسْتَغْفِرُكَ» يعنې موږ له تا د مغفرت او د ګناه بخښنه غواړو، نو بايد فکر وکړو چې ايا په دغه اقرار کې موږ صادق يو؟ لکه څنګه چې د استغفار شرعي طريقه ده او شرائط لري د هغه مطابق موږ له الله پاک څخه د مغفرت طلب کوو که يا ؟

**دريم:** دا اقرار کوو چې «وَنُؤْمِنُ بِكَ» يعنې اې الله موږ په تا باندې ايمان لرو، نو بايد فکر وکړو چې په دغه اقرار کې موږ څومره رښتيني يو.

**څلورم:** دا اقرار کوو چې «وَنَتَوَكَّلُ عَلَيكَ» يعنې اې الله موږ پر تا توکل کوو، دلته بايد فکر وکړو چې ايا رشتيا هم د ژوند په چارو کې زموږ تکيه او اعتماد يواځې پر الله پاک دی او که مخلوق ته مو هم تمه ده؟

**پنځم:** دا اقرار کوو چې «وَنُثْنِي عَلَيكَ الخَيرَ كُلَّهُ» يعنې ستا هر رنګه ثنا او صفت کوو، نو د دغه اقرار دا تقاضا ده چې هر څوک او هر شَی چې د الله پاک نه وي خوښ، د هغه مدح اوصفت به نه کوو.

لکه چې روايت دی چې کله د يوه فاسق سړي مدح او صفت وشي

الله پاک په غضب کې شي، او د هغه عرش د دغې ګناه له وجې وښوري (**اخرجه ابن ابي الدنيا وابن عدي والبيهقي، و قال ابن حجر: في سنده ضُعفٌ**).

**شپږم:** دا اقرار الله پاک ته کوو چې «وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ» يعنې اې الله موږ ستا د نعمتونو، شکر ادا کوو، ناشکري نه کوو، نو بايد وګورو چې موږ په دغه اقرار کې چې هره شپه يې الله پاک ته کوو څومره رينښتيني يو. دلته د شکر په معنى هم ځان پوهول پکار دي، په شريعت کې شکر دې ته ويل کېږي، چې بنده هر هغه نعمت چې الله پاک ورکړې وی، په همغه لار کې وکاروي چې الله پاک د هغه لپاره ورکړې وی، مثلا ژبه الله پاک بنده ته د خير د خبرو، تلاوت او ذکر وغيره لپاره ورکړې ده، که بنده په ژبه دروغ، غيبت وغيره کوي، نو ده د الله پاک سخته ناشکري وکړه، دارنګه مال چې يو سړی يې په ناروا لارو کې لګوي، نو ده د الله پاک ناشکري وکړه، وهکذا.

**اووم:** داسې اقرار کوو چې «وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَن يَفْجُرُكَ» يعنې اې الله موږ ليرې کېږو له هر هغه چا او له هر هغه شي څخه چې ستا له رضا خلاف وي، او هر هغه څوک پرېږدو چې هغه تا او ستا بندګي پرېږدي. ايا موږ همداسې يو؟ ايا رښتيا هم موږ له هغو خلکو سره

چې د الله پاک له دین څخه مخالف وي تعلق پرې کوو؟ او ایا له هغه کارونو سره چې الله جل جلاله ته ناخوښه وي ځانونه ساتو ؟.

**اتم:** اقرار دادی چې «اللّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ» یعني اې الله ! خاص تا لره موږ عبادت کوو، خاص تا لره لمونځ کوو، او خاص تا لره سجده کوو، باید وګورو چې رښتیا هم موږ خاص الله لره عبادت کوو، او که په رِیا، عُجب وغیره باندې اخته یو ؟.

**نهم:** دا اقرار کوو چې «وَإِلَيكَ نَسْعى وَنَحْفِدُ» یعني تاته موږ په منډه درځو، یعني ستا په عبادت کې بیړه، کوشش او محنت کوو، دلته حتما باید دا فکر وکړو چې رښتیا هم موږ څومره محنت کوو په عبادت کې؟

**لسم:** دا اقرار کوو چې «وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ الجِدَّ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ» یعني موږ ستا د رحمت او مهرباني امید کوو، او ویرېږو ستا له عذابه، بېشکه ستا عذاب په کفارو پسې نښلېدونکی دی.

دلته باید فکر وکړو، چې رښتیا هم د الله پاک د عذاب وېره او فکر په صحیح معنی له موږ سره شته او که یا؟ د الله پاک له عذاب څخه د وېرېدو دا نښانه ده چې له ګناهونو څخه سړی ځان ساتي او که ګناه ورڅخه وشي نو فورًا توبه وباسي.

## د ثناء او تعوذ اړوند ځيني علمي معلومات

### د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په اړه:

د «سُبْحَانَكَ» معنى دا ده چې پاکي ويل ستا، يا پاکي بيانول ستا، نو دا معنى په يوازي سر صحت نه لري، نو ځکه به د عربي گرامر له مخې دلته دغه توري له ځانه ورسره ويل کېږي چې: پاکي وايم، يا پاکي بيانوم ستا «سبحانک» پاکي ويل، يا پاکي بيانول ستا. په ځينو کتابونو کې يا ځيني ملايان چې د سبحانک داسې معنى کوي چې: پاکي ده تا لره، دا معنى له قانونه خلاف ده.

پاکي بيانول څنگه دي، څه معنى لري؟ پوه سه! چې د الله پاک پاکي بيانول دوه ډوله دي: لومړی هغه چې بې اختياره او بې ارادې وي، هغه دا چې د هر انسان وجود پر دې دلالت کوي چې الله پاک له ټولو عيبونو او ټولو نقصانونو څخه پاک دی، دغه پاکي بيانول د الله پاک تر مسلمان پورې خاص نه ده، بلکې د کافر وجود هم د الله پاک دغه ډول پاکي بيانوي، همدارنگه د حيوان او د ډبرو وجود هم د الله پاک دغه رنگ پاکي بيانوي. دوهم قسم داسې پاکي بيانول دادی چې په اختيار او اراده سره وي، دا بيا پنځه ډوله ده:

(۱): لومړی د زړه په اعتقاد سره، يعنې چې انسان به پر دې يقين

کوي چې الله پاک له هر نقصان څخه پاک دی، دغه ته اعتقادي تسبيح او پاکي بيانول ويل کېږي

(۲): دوهم ډول پاکي بيانول د الله پاک دا دي چې په زړه کې انسان سبحان الله مثلا وايي، دې ته قلبي تسبيح يعنې په زړه د الله پاک پاکي بيانول ويل کېږي.

(۳): دريم قسم د تفکر او سوچ له لارې پاکي بيانول دي، يعنې چې انسان په دې کې فکر وهي چې الله پاک له هر عيب  او له هر نقصانه پاک دی، دې ته فکري او تصَوُّري تسبيح او پاکي بيانول ويل کېږي.

(۴): څلورم قسم پاکي بيانول دادی چې سړَی په عقل کې د خدای پاک د پاک والي دليلونه جوړ او ترتيب کړي، دې ته عقلي تسبيح ويل کېږي.

(۵): پنځم قسم داده چې په ژبه سره د الله پاک پاکي بيان کړل شي، دا بيا درې ډوله ده: اول دا چې سړی په خوله د تسبيح کلمه ووايي، يعنې سبحان الله يا سبحانک اللهم وغيره، دې ته لساني صريحي تسبيح ويل کېږي. دوهم دا چې سړَی په خوله د الله پاک د پاکوالي تعليم بل چاته وکړي، دې ته لساني تعليمي تسبيح وايي.

دريم دا چې سړَیْ له هرعيب او نقصان څخه د الله پاک د پاکوالي دليلونه بيان کړي.

(٦): شپږم قسم اعضائي تسبيح ده، يعنې دا چې سړَی د بدن په نورو اعضاوو سره د الله پاک پاکي بيان کړي، لکه دا چې الله پاک ته سر پر سجده کېږدي.

(٧): اووم قسم دا دی چې سړَی په قلم سره د الله پاک پاکي بيان کړي، دابيا درې قسمه ده: اول دا چې په قلم سره د تسبيح کلمې وليکي. دوهم دا چې نورو ته په قلم سره د الله پاک د پاکوالي په اړه بيان وليکي. دريم دا چې په قلم له هر عيب څخه د الله پاک د پاکوالي دليلونه وليکي.

(٨): اتم قسم مالي تسبيح ده، يعنې دا چې سړی په صدقه يا زکات کې يو فقير ته مثلا پيسې ورکړي.

## د «وَبِحَمْدِكَ» د معنی نَحوي وضاحت

په دغه لفظ کې دوه اړخونه دي: لومړی دا چې واو زائد شي، با جاره د «مَعَ» په معنی شي، نو معنی به داسې شي: «وَبِحَمْدِكَ» سره له ثناء ويلو ستا، يعنې پاکي وايو پاکي ويل ستا، سره له ثنا ويلو ستا. دوهم احتمال دا دی چې واو زائد نه شي، نو بيا يې يا معنی داسې

ده: «وَبِحَمْدِكَ» او پیوسته کېږم په ثنا ویلو ستا پسي، یعنې او ستا ثنا وایم، نو به د «اَتَلَبَّسُ» فعل ورسره مقدر شي «اَيْ: وَ اَتَلَبَّسُ بِحَمْدِكَ». او یا له «بِحَمْدِكَ» وروسته د سَبَّحْتُ فعل مقدر دی «اَيْ: وَبِحَمْدِكَ سَبَّحْتُ». یعنې او خاص په توفیق ستا مې پاکي بیان کړه، تا لره.

او یا با زائده ده معنی داسې ده: او ثنا ویل ستا، یعنې ثنا او حمد وایم، حمد او ثنا ویل ستا، نو به د «اَحْمَدُ» لفظ ورسره مقدر شي، او بِحَمْدِكَ به د هغه مقدر مفعولِ مُطلق شي.

## د حمد ویلو مطلب

د الله پاک حمد دا دی چې ټول ښه او کامل صفتونه الله ته ثابت دي، مثلا زه چې داسې ووایم: پاکي ده الله پاک لره له ټولو ناقصو صفتونو څخه، نو دا تسبیح ده او د سبحان الله یا د سبحانک اللهم مطلب دی، او چې داسې ووایم چې هر ثنا او صفت یعنې هر کامل صفت ثابت دی الله پاک ته، لکه کامل علم کامل قدرت، کامل ژوند، کامل رحمت وغیره، نو دا حمد وویل سو، او د الحمدلله او وَبِحَمدِکَ مطلب دی.

**یادونه:** د تسبیح کوم اقسام چې مخکې بیان شول، د حمد هم په عین شکل هغومره قسمونه دي.

## وَتَعَالٰی

دا د تفاعُل د باب ماضي فعل دی، دلته د خپل باب په معنی نه دی، بلکې د مجرد فعل په معنی دی، خو سره له زیادته په معنی کې، نو معنی د «وَتَعالَی» دا ده: او ډېر لوی دی (جَدُّكَ) شان ستا.

## وَلَا اِلٰه

د «اِلٰه» لفظ ډېرې معناوې لري، چې یوه معنی یې د معبود (یعني هغه چې عبادت یې کیږي، که باطل معبود وي او که حق معبود وي) دلته مراد له معبود څخه حق معبود دی، نو د «وَلَا اِلٰهَ غَیرُكَ» معنی به دا شي: او نشته هیڅ لایق دعبادت (حق معبود) غیر له تا. او مطلق معبود که حق وي که باطل دلته ځکه نه دی مراد چې بیا به معنی غلطه شي او دروغ به لازم شي؛ ځکه چې باطل معبودان خو ډېر دي.

## اعوذبالله منَ الشیطان الرجیم

د شیطان د لفظ په عربي ژبه کې دوه ډوله معنی کېږي: لیرې شوی له رحمت څخه د الله جل جلاله، یا لیرې له هر خیره (پر دغه تقدیر به دشیطان په لفظ کې نون اصلي حرف شي او وزن یې فیعال دی). دوهمه معنی: شیطان په معنی د باطل (الف او نون به دواړه پکې زائد او وزن به یې فعلان شي). [ تفسیر بیضاوی اومظهری].

**د شیطان لفظ** که څه هم دابلیس او د ده په اولاد کې شهرت لري، خو له دې سره سره هر مُتَمَرِّدْ او سرکښه ته هم (چې په خپله هم گمراه وي او د نورو په گمراه کولو کې هم کوښښ کوي) شیطان ویل کېږي. د دغې معنی له مخې شیطان پر دوه قسمه دی: یو انسي شیطان بل جني شیطان، لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي: «وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ». یعنې او اې رسوله! لکه چې تا لره موږ شیطانان د انسانانو او پیریانو دښمنان گرځولي دي، دارنگه موږ هر نبي ته دښمنان شیطانان (د انسانانو او پیریانو) گرځولي دي، مطلب دا چې هر هغه انسان چې په شکل انسان وي مگر له الله جل جلاله او د الله تعالی له دین څخه سرکښه وي، او د مسلمانانو په دښمنی کې لویدلی وي، او لکه څنگه چې په خپله بې دینه وي نور هم له دینه اړوي، دغه راز انسان ته هم شیطان ویل کېږي، بلکې دغه ډول انسان تر اصلي

شیطان د شیطان په نامه ډېر لائق دی؛ ځکه اصلي شیطان له دې وجې چې په حقیقت کې له انسان څخه بېل دی د انسان دین او دنیا ته دومره ضرر نه شي رسولای لکه څرنګه چې یې انسي شیطان رسولای شي.

**په موجوده وخت کې** چې انسي شیطانان بیخي ډېر دي، کوم چې په خپله هم بې لارې دي، نور خلک هم ډېر په اسانۍ بې لارې کوي، نو که د دوی په حال باندې ځوک نظر واچوي په دې به ښه پوه شي چې بې شکه انسي شیطان تر جني شیطان ډېر بد دی، او دا به ورته معلومه شي چې څومره خلک چې انسي شیطان له سمې لارې څخه اړوي نو جني شیطان د هغه په سلمه حصه کار نه شي کولای؛ ځکه څومره خلک چې په دغه حاضر دور کې انسي شیطانانو د خپلو شیطاني فریبونو په سبب په ډېره لږ موده کې له سمې لارې واړول یا یې اړوي، همدارنګه څومره ضرر چې د مسلمانانو دین، دنیا، د دوی ننګ او ناموس او د دوی عنعناتو ته رسوي، نو جني شیطانان په پېړیو پېړیو عُشرِ عَشیر د هغې نه شي رسولای.

شیطان که انسي وي که جني د خوړې یا لېوني سپي په مثال دی، د یو چا له کور څخه چې خوړي یا لېونی سپی پر یو چا حمله وکړي، نو دغه سړی یې مالک ته نارې وروهي چې وروره دا سپی دې در وګرځوه، د «اعوذُ بالله» مطلب هم دا دی چې پروردګاره دغه خوړی او لېونی سپی، چې شیطانُ الانس والجن دی له ما څخه دروګرځوه.

## په کوموځایونو کې (أَعُوذُ بِاللّٰهِ) ویل کېږی؟

که څه هم د «أَعُوذُ بِاللّٰهِ» ویل په هر وخت کې د مسلمان لپاره په کار دی، خو ځیني ځایونه یې د شرعي دلائلو له مخې د ویلو لپاره په مشخص ډول په گوته شوي دي:

**لومړی:** د قرآن کریم د تلاوت په پیل کې، لکه چې الله پاک فرمايي: فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ. یعني کله چې ته اې رسوله د قــرآن کـــریم د ویلو اراده وکړې، نو ړومبی أعوذ بالله من الشیطان الرجیم وایه .

**دویم:** دلمانځه په اول رکعت کې له ثنا څخه وروسته.

**دریم:** دغضب په وخت کې.

**څلورم:** بیت الخلاء ته د داخلېدو په وخت کې، له حضرت أنس رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه الصلاة والسلام چې به کله بیت الخلاء ته داخلېده، نو ویل به یې: «اللّهم اِنِّي أَعُوْذُبِکَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَآئِثِ».

یعني اې الله بیشکه زه پناه غواړم په تا، له نارینه او ښځینه شیطانانو څخه.

**پـنځـم:** کله چې انسان د سپي غفا یا د خره انګاره واوري؛ ځکه چې دغه سپَی او خر په دغه وخت کې شیطان ویني.

**شـپـږم:** د خوف اووېرې په مهال، لکه چې روایت دی چې: د اسلام پیغمبر به خپلو أصحابو ته داسې تعلیم کاوه چې دوېرې په وخت کې دغه کلمې وایاست «أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ من غضبه وعقابه وشر عباده ومن همزات الشياطين وأن يحضرون».

یعنې پناه غوارم د الله پاک په کلماتو چې بشپړې او پوره دي، د الله پاک له غضب او عذاب او د بندګانو له شر څخه، او له چلونو د شیطانانو او له دې چې دوی ماته حاضرېږي.

**اووم:** پر یو چا د دَم کولو په وخت، لکه چې روایت دی چې نبي علیه السلام به پر حَسَن او حُسین باندې د دم کولو په وخت کې داسې ویل: «أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ».

**اتم:** مسجد ته د داخلېدلو په وخت، ځکه نبي علیه السلام چې به کله مسجد ته داخلېدَه نو داسې یې ویل: «أَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ». یعنې: پناه غوارم په الله چې ډېر لوی دی او په ذات کریم دده او په باچاهي دده، چې پخوانی ده، له شیطان رټل شوي څخه.

## د أعوذ بالله ښېگڼې، لطائفي او باريکياني

امام فخر الدين رازي د أعوذ بالله ډېرې په زړه پورې ښيگڼې او نکتې ذکر کړي دي چې تفصيل يې په دې شرحه دی:

**لومړی نکته:** کله چې يو مسلمان ووايي چې أعوذُ، نو پـه دې سره يې گواکې په خپل فقر، حاجت، عُجز او ناوسۍ اقرار وکړ، چې اې الله زه فقير، حاجتمند، عاجز او ناوسه يم، کله چې بيا «بالله» ووايي، نو په دې سره يې په دوو شيانو اقرار وکړ: اول په دې چې الله پاک ما ته د ټولو ښېگڼو پر راکولو، دارنگه له ما څخه د ټولو آفتونو او مصيبتونو پر دَفع کولو قادر دی. دوهم په دې چې له الله جل جلاله پرته بل هېڅوک ددې تـــــــوان او وس نلري چې ماته کوم خير راورسوي، يا شر او آفت را څخه دفع کړي.

**دوهمه نکته:** د اعوذُ بِالله په ويلو کې دې ته اشاره ده، چې الله جل جلاله ته د قُرب او نژدېکت وسيله دا ده چې بنده خپل ځان په عجز او احتياج سره وپېژني او الله جل جلاله ته د خپل عجز، دارنگه د دې اظهار وکړي چې اې الله ته قادر مطلق يې او هر څه ستا په اختيار او قدرت سره کېږي، همدا سبب دی چې د طريقت بزرگانو فرمايلي دي  د ولايت او د الله جل جلاله د معرفت او پېژندني په

مقاماتو کې اخيري مقام د عجز دی، او دارنګه دوی فرمايلي دي چې هر څومره چې بنده الله پاک ته نژدې کېږي هغومره د ده د نفس شکستګي او عجز زياتيږي.

حضرت بايزيد بسطامي رحمه الله تعالی په يوه کلام کې داسې مناجات کړی:

**چارچيز آورده ام شاها ! که درګنجی تو نيست**

**عاجزي و مسکنت فقر وګناه آورده ام**

يعني څلور شيان مې راوړي دي اې بادشاه (اې الله!) چې څلور واړه ستا په خزانه کې نشته: عاجزي، مسکنت، فقر او ګناه. لکه چې روايت دی «مَنْ عَرَفَ نَفْسَهُ فَقَدْ عَرَفَ رَبَّهُ» **(من قول يحيى بن معاذ الرازي)**. يعني چاکه خپل ځان وپيژنده(په ضعف،قصور او عجز سره) نو يقينًا خپل رب يې وپيژنده، يعني په قدرت، کمال او جلال سره.

**دريمه نُکته:** دې ته اشاره ده چې شيطان ملعون د انسان تاريخي او بنيادي دښمن دی، دَی د خپل عداوت او دښمني په مقتضا په هغه وخت کې له انسان سره خپل مکر او فريب عملي کوي چې انسان د الله پاک د يوه عبادت اراده وکړي.

**څلورمه نکته:** په اعوذ بالله کې له الهي لورې ښخه بندګانو ته د دې

خبرې تعلیم شوی دی چې نافرماني او سرکښي د الله جل جلاله له حکم څخه سبب د دومره بدبختۍ ګرځي، چې بیا د الله پاک هرنېک بنده دده له قرب او دده له حاله، دارنګه دده له شر او فساد څخه پناه غواړي، لکه چې د دې پر خلاف هغه چا چې د الله پاک اطاعت او فرمانبرداري کړې وي، نو خلک د هغه په نژدېکت سره تبرک تر لاسه کوي، او هڅه کوي چې دُعا، برکت او فیض ترې واخلي.

**پنځمه نکته:** د اعوذ بالله په ویلو سره انسان ته هغه تاریخي پېښه وریادیږي، کومه چې د ادم علیه السلام او ابلیس تر منځ واقع شوې ده، هغه مهال چې الله پاک ابلیس آدم ته په سجده کولو امر کړ، او هغه مهال چې ادم علیه السلام او حواء رضي الله عنها جنت ته ننوتل، بیا د شیطان په توسط له جنته راوایستل شول.

## عجیبه کیسه

یو طالب عراق ته د تحصیل لپاره ولاړه، په دغه سفر کې زر دینار ورسره وو، ټول یې مصرف کړل، کله چې یې علم حاصل کړ او وطن ته یې د تللو اراده وکړه، نو استاذ یې ورته وویل چې په دغه موده کې دې دلته څومره پیسې مصرف کړې دي؟ ده ورته وویل زر دیناره! نو استاذ ورته وویل چې داسې خبر دروښیم چې له هغه ټول

علم سره برابروي كوم چې تا دلته په عراق كې حاصل او زر دېناره دې ورپسي خرچ كړل؟

طالب ورته وويل هو ولې نه! استاد: ته د كوم ځاى يې؟ طالب: د خراسان يم. استاذ: هلته شيطان شته كه يا؟ طالب: هو شته، شيطان خو هر ځاى وي !. استاذ: شيطان چې له تاسو كوم يو په فتنه كې اچوي، نو له هغه شيطان سره څه چم كوئ؟ طالب: كوښښ او مشقت كوو تر څو له ځانه يې وگرځوو!. استاذ: كه دوهم ځل شيطان ورته راغلى بيا؟ طالب: دوهم وار يې هم هغه ډول دفع كوو. استاذ: په دې توگه خو وخت ټول د شيطان په دفع كولو كې تېرېږي عبادت ته نه فارغېږي.

بيا يې ورته وويل چې ته د پسونو پر يوه شپون باندې راشې او له هغه سره خروړى سپَى وي دربانديې حمله وكړي، نو كه ته په خپله دغه سپى له ځانه دفع كوې وخت به دې ټول په دغه كې تېر شي، اوپه سخت جنجال كې به هم واقع شې، غالب گمان دا دى چې تا هم خوري، نو طالب ورته وويل: نو څه چل به كوم؟ استاذ ورته وويل: د سپي خاوند ته چې شپانه دى بايد ږغ وكړې، چې سپَى دې دروگرځوه، نو هغه يې في الحاله درځخه دفع كوي، يعنې نو شيطان

هم يو خروړَی سپَی دی او مالک يې الله پاک دی، کله چې شيطان وسوسه دراچوي الله پاک ته عجز او زاری کوه، چې الله پاکه دغه ستا خروړَی سپَی له ما دروگرځوه، او اعوذبالله وايه. **[كذا في ملتقط الحكايات لابن الجوزي رحمه الله تعالى]**

## د شيطان نومونه

شيطان تر ملعون کېدو له مخه په اول اسمان کې د عابِد په نوم يادېده، په دوهم اسمان کې د زاهد، په دريم اسمان کې دعارف، په څلورم اسمان کې د وَلي، په پنځم اسمان کې د تقي، په شپږم اسمان کې د خازِن، په اوم اسمان کې دعزازيل په نومونو سره يادېده، او په لوح محفوظ کې د ابليس په نامه ليکل شوی دی. **[جمل ج ۱ ص ۴۱]**

په دې اړه اختلاف دی چې ابليس د شيطان په کوم وخت کې نوم شو، او د ده دعزت نوم و که يا ؟ ځينو ويلي چې ابليس د شيطان تر ملعون گرځېدلو وروسته دده نوم شو، او دا يې د بې عزتي نوم دی (بيهقي في شعب، وابن حجر في الفتح). ځينو ويلي چې ابليس د شيطان له هغو نومونو دی چې تر ملعون کېدو له مخه يې درلود، او دا يې د عزت نوم دی.

## د شیطان د ځینو زامنو نومونه او وظیفې یې:

۱: **هفاف**، وظیفه یې دا ده چې خلکو ته د مختلفو حیوانانو په شکل ورښکاره کېږي، چې و یې وېروي.

۲: **زلنبور**، وظیفه یې دا ده چې په بازارونو کې ګرځي، تر څو د بازار خلک په چتیاتو، دروغو، د دروغو په قسمونو او د شیانو د خرڅولو په ناحقه صفت او مدح اخته کړي، لکه په ګنج کې د پسونو او په دوکانونو کې د فروخت سامانونو دخرڅولو په وخت.

۳: **ولهان،** وظیفه یې دا ده چې په اوداسه او لمانځه کې خلکو ته وسوسې وراچوي او د ځینو په قول دشیطان دوه زامن نور هم دا وظیفه اجراکوي **لاقس** او **مره**، په همدې سبب شیطان ته ابومره هم ویل کېږي.

٦: **ابیض**، دی د نبیانو لپاره مقرر و چې وسوسه وروړاچوي یا یې په غضب کې راولي.

۷: **ثبر**، یا بتر، وظیفه یې داده چې د مصیبت په وخت کې انسان په جزع، فزع، بې صبرۍ، د کالو په څیرلو په چغو او بغارو مبتلا کړي.

۸: **اعوَر**، وظیفه یې دا ده چې نارینه او ښځې زنا ته سره رابولي، تر دې چې د نر په ذکر او د ښځې په فرج کې پوه کړي، د دې لپاره چې شهوتونه یې په جوش راشي. ۹: **داسِم**، وظیفه یې دا ده چې یو

مسلمان کور ته بې بسم الله او بې سلامه ورننوځي نو دَی ورسره ننوځي تر څو د مسلمان په کورکې جنجال پیدا کړي، ښځه او مېړه په شر کې سره واچوي.

۱۰: **مطرش یا مطروس**، وظیفه یې داده چې د دروغو خبرې او ددروغو اوازې په خلکو کې نشر کړي، د سړي په شکل په یوه مجلس کې کښېني د دروغو خبرېې په مجلس کې وکړي یا په دروغو ووايي چې نن داسې پېښه وه بیا ورک شي، او هغه دروغ د ده خلک نشر کړي.

۱۱: **دهّار**، وظیفه یې دا ده چې په خوب کې مومنان د وحشتناکو خوبونو په ذریعه وېروي او په خوب کې له ښځو سره جماع کوي.

۱۲: **تمریح**، دَی هڅه کوي چې د خلکو وخت عبث تېر کړي، له واجبو، فرضو او ضروري کارونو یې راوګرځوي.

۱۳: **لاقیس** ځیني یې د شیطان د لور نوم بولي، کله چې د لوط علیه السلام قوم لواطت شروع کړ او نارینه به له نارینه سره جماع کوله، نو دغې لاقیس د لوط علیه السلام ښځې دېته وهڅولې چې دوی هم په خپل منځ کې ښځې له ښځو سره جماع شروع کړي، چې دېته سحاق ویل کېږي، بیا دا کار تر اوسه پورې ددې لاقیس وظیفه ده

چې په دغه سحاق سره خلک اخته کوي.

۱۴: **مقلاص**، وظیفه یې دا ده چې یو ځل خلک په قمار او بیا یې په بغض او عداوت سره مبتلا کړي.

۱۵: **اقبض**، وظیفه یې دا ده چې په شبانه روز کې دیرش هګۍ اچوي، لس په مشرق، لس په مغرب او لس د ځمکې په منځ کې، نو بیا له هري هګۍ څخه یو شمېر شیطانان سرکښه دېبان او پیریان پیدا کېږي، چې ټول د انسانانو د ښمنان دي.

(١٦): **خنزب**: دده وظیفه هم دا ده چې په لمانځه کې خلکوته وسوسې اچوي. **[صاوي ج ۳ ص ۱۷]**

دويمه برخه

# ځيني نفلي او د زيات ثواب لرونکي لمونځونه

## سُنَنِ رواتِب

هغه سنت لمنځونه چې له فرضي لمنځونو مخکې یا وروسته ادا کېږي، سنن رواتب ورته وایي، دا بیا دوه تقسیمه کېږي:

١- سنن مؤکده

٢- غیر مؤکده

**سنن مؤکده** یعنې ټینګ سنتونه، چې پر کولو یې باید پابندي وشي، ددوی حکم واجبو ته قریب دی، بې له عذره پریښودل یې ګناه ده (یعنې چې څوک یې پر پریښودلو بې له عذره دوام وکړي).

دغه سنتونه ٢ رکعته د سهار تر فرضو مخته، ٦ رکعته ماسپښین (یعنې څلور تر فرضو مخته دوه وروسته) ٢رکعته د ماښام تر لمانځه وروسته، ٢رکعته د ماخستن تر لمانځه وروسته دي، چې جمله (دولس ١٢) رکعتونه کیږي.

په حدیث کې راځي: چا که په شبانه روز کې دغه دوولس رکعته لمونځ وکړ، نو د هغه لپاره به په جنت کې یو کور اباد کړل شي. **(سنن الترمذي)**

په دغو سنتونو کې د سهار سنت بیا تر ټولو ډېر مهم او رسول اللهﷺ یې زیات فضیلت بیان کړی، او تاکید یې باندې کړی دی ، په

حديث کې راځي چې د سهار دوه رکعته سنت تر دنيا او تر هغه څه چې په دنيا کې دي غوره ده. **(سنن الترمذي)**

او **سنن غير مؤکده** هغه دي چې پر کولو يې ډېر ټينگار نه کېږي، که يې څوک وکړي ثواب او اجر يې زيات دی، مثلا د ماسپښين له دوو رکعتونو سنت مؤکده سره، دوه رکعته نور يو ځای کول، لکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي: چا که د ماسپيښين تر فرضو مخکې څلور رکعته ادا کړل، او دارنگه وروسته تر فرضو يې هم څلور رکعته ادا کړل، نو الله پاک به دَی د جهنم پر اور حرام وگرځوي. **(رواه الخمسة، وصححه الترمذي)**

دارنگه د مازديگر تر فرضو مخکې څلور رکعته سنت غير مؤکده دي، چې نبي عليه السلام يې په هکله فرمايلي: الله دي پر هغه چا رحم وکړي، چې د مازديگر تر لمانځه مخکې څلور رکعته لمونځ ادا کړي **(ابوداود والترمذي وغيرهما)**

د ماخستن تر لمانځه مخکې هم څلور رکعته لمونځ سنت غير مؤکده دی، دارنگه تر فرضو او دوو رکعتو سنت مؤکده وروسته هم څلور رکعته سنت غير مؤکده شته. **(مختصر قيام الليل للمرزي، مشکات، مسندالامام الاعظم)**

### د ماخستن تر وترو مخکې يا وروسته دوه رکعته نفل:

تر وترو مخکې دوه رکعته نفل د تهجد د لمانځه ځای نيسي، يعنې هغه څوک چې پر ځان باور نه لري چې د تهجد لمانځه ته راپورته شي، نو دغه دوه رکعته د تهجد پر ځای کفايت ورته کوي (مشكاة، وقال في المرقاة: والركعتان قبل الوتر نافلة قائمة مقام التهجد وقيام الليل).

او په ځينو روايتونو کې بيا ددغو دوو رکعتونو ذکر تر وترو وروسته راغلی، چې نبي عليه السلام به تر وتر وروسته دوه رکعته کول په ناستې سره.

په هر صورت ډېر خلک دغه دوه رکعتونه په ناسته کوي، په داسې حال کې چې هر نفل په ناسته سره جائز خو ثواب يې نيمی دی، دا د نبي عليه السلام خاصيت و، چې دغه دوه رکعته يې په ناسته سره کول، د امتيانو لپاره بيا هم افضل دادی چې په ولاړه سره ادا شي.

## د تهجد لمونځ

د تجهد لمونځ د تقوی علامه ده، الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ... كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ﴾ (الذاريات)

يعنې بېشکه متقيان به په جنتونو او چينو کې وي، په داسې حال

کې چې د هغه څه نیوونکي به وي چې دوی ته یې ددوی رب ورکوي، بېشکه له دې نه مخکې دوی نیکي کوونکي وو، دوی به د شپې په لږه برخه کې ویده کېدل.

په حدیث کې راځي: اَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الفَرِيضَةِ: صَلَاةُ اللَّيلِ (رواه مسلم)

یعنې تر فرض لمانځه وروسته افضل او غوره لمونځ د شپې (تهجد) لمونځ دی.

دارنګه روایت دی: أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ: صَلَاةُ اللَّيلِ (مسلم)

یعنې الله پاک ته محبوب او خوښ لمونځ د شپې لمونځ دی.

له حضرت بلال رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول ﷺ وفرمایل: د شپې خامخا راپورته کېږه (د تهجد لمونځ کوه) ځکه دغه تر تا مخکې د نېکانو طریقه وه، او الله تعالی ته د تقرّب او نژدې والي ذریعه او د ګناهونو کفاره ده، او له ګناهونو څخه د راګرځولو او حسد لیرې کولو شی دی. (قیام اللیل)

د تهجد د لمانځه د فضیلت او ثواب په هکله په قران او حدیث کې ډېر څه راغلي دي، چې دلته رانقلول یې نه ځاییږي، پخوا د تهجد لمونځ ډېر رواج و، ښځو او نارینه واړه او زاړه به د تهجد لمونځ په ډېري

پابندۍ سره ادا کول، او د شپې به یې د خوب بستره پرېښودله، په یخو یا ګرمو اوبو به یې اودس کاوه، نارینه به مسجد ته تلل او ښځې به په کور کې په تهجد مصروفه کېدلې، خو زموږ په زمانه کې چې کله نوې د فتنو شیان ایجاد شول، لکه ټي وي، انټرنیټ، فیسبوک وغیره نو زموږ مسلمانانو دا دیني میراث له لاسه ورکړ.

**د تهجد د لمانځه وخت او رکعتونه:** د تهجد وخت د ماخستن له لمانځه وروسته شروع بیا تر صبح صادق پورې دی، د تهجد د لمانځه لپاره خوب شرط نه دی، یعنې که څوک ویښ پاتي شي، بلکې د ماخستن تر لمانځه وروسته څو رکعته د تهجد په نیت وکړي نو د تهجد ثواب ورته رسیږي، البته د رسول الله ﷺ او اصحابو وغیره تعامُل پر دې راغلی چې تهجد به یې له خوبه وروسته د شپې په اخیري برخه کې ادا کوه، نو څکه افضل وخت یې د شپې اخیري حصه ده.

د تهجد لمونځ له دوو څخه تر دوولسو رکعتونو پورې کېدلای شي، البته د نبي علیه السلام معمول اکثره اته رکعتونو وو، له همدې وجې زموږ فقهاوو پر اتو رکعتونو مواظبت او مداومت مستحب ګڼلی. (والسنة فیها ثمان رکعات باربع تسلیمات) **(شامي)**

د تهجد لمونځ په جماعت سره علی سبیلِ التداعي، یعنې چې څلور یا زیات خلک په امام پسي اقتداء وکړي نه دی جائز، البته که یو دوه نفره وي بیا پروا نلري.

## د اشراق لمونځ

دا یو نفلي لمونځ دی، په احادیثو کې یې زیات فضیلت بیان شوی دی، که څوک د سهار تر لمانځه وروسته پر هماغه ځای ناست او تر لمر راختلو پورې په ذکر مشغول پاتې شي، او بیا د اشراق لمونځ ادا کړي، نو دده لپاره د یوه پوره حج او عمرې ثواب لیکل کیږي، او دا خبره نبي علیه السلام درې ځله وفرمایله.

**د اشراق د لمانځه وخت او رکعتونه:** د اشراق لمونځ تر لمر راختلو وروسته ادا کیږي، کله چې لمر یو څه راپورته شي، او کتل ورته مشکل وي، ځینو علماوو د سهولت لپاره داسې اندازه ورته لګولې چې تر لمر راختلو ۱۵ یا ۲۰ دقیقې وروسته د اشراق د لمانځه وخت شروع کیږي، بیا تر نصفُ النهار یعنې د ورځې تر نیمایي پورې، یعنې له صبح صادق څخه بیا د لمر تر غروب پورې چې څومره وخت دی دا پر منځ نیم کړل شي دا نصف النهار بلل کیږي. د اشراق لمونځ لږ تر لږه دوه رکعته او زیات څلور رکعته دی.

**یادونه:** پورته چې کوم فضیلت ذکر شو، نو دا خو په کامله طریقه د هغه چا لپاره دی چې پر هماغه ځای چې لمونځ یې کړی دی ناست او په ذکر مشغول واوسي، البته که څوک د سهار له لمانځه وروسته

ځای بدل کړي، بل اتاق ته ولاړ شي مثلا، یا پیاده گرځي، یا په بل کار مشغول شي، وروسته د اشراق لمونځ وکړي، نو امید شته چې دی هم همدغه ثواب تر لاسه کړي.

مگر د اشراق د لمانځه ځانته بل فضیلت هم بیان شوی دی، نو که څوک د اشراق لمونځ په همدغه پورته مخصوصه طریقه سره ونه کړي، نو لږ تر لږه د دغه بل فضیلت مستحق گرځي، لکه چې په حدیث قدسي کې راغلي: اې بني آدمه ! په اول د ورځې کې څلور رکعته لمونځ وکړه، زه به دې د ورځې تر پایه کفایت وکړم **(الترمذي)**

د ځینو علماوو په نزد له دغه څلور رکعته څخه د اشراق لمونځ مراد دی.

دارنگه روایت دی چې که د ده گناه د دریاب د ځگ په اندازه وي هم الله تعالی به یې ور معاف کړي (البته واړه گناهونه).

## د څاښت لمونځ

په حدیث کې راځي چې ستاسو د وجود د هر بند په شکرانه کې په ورځني ډول یوه صدقه شته چې ادا شي، هر وار سبحان الله ویل یوه صدقه ده، هر وار الحمدلله ویل یوه صدقه ده، هر وار لااله الا الله ویل یوه صدقه ده، هر وار الله اکبر ویل یوه صدقه ده، په نیکی امر یوه

صدقه ده، له بدی راګرځول یوه صدقه ده، او د (وجود) د هر بند د شکر اداکولو لپاره، د څاښت پر مهال دوه رکعته لمونځ کافي او بس دی. **(مسلم)**

**فایده:** د انسان د وجود درې سوه شپېته بندونه چې هره ورځ یې باید شکرانه او صدقه اداکړل شي، د څاښت په لمانځه ددې ټولو غاړه وځي، دارنګه له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې د څاښت لمونځ د تسبیح، تحمید، تهلیل او تکبیر ځای هم نیسي.

د مسلم شریف په یو روایت کې دغه لمونځ د اوابین په نوم هم یاد شوی دی. دارنګه روایت دی: لایُحافظ علی صلاة الضحی الا اواب، وهي صلاة الاوابین **(رواه ابن خزیمه)**

د څاښت لمونځ هم لږ تر لږه دوه رکعته، او زیات دوولس (۱۲) رکعتونه او اوسط یې اته (۸) رکعته دی، چې وخت یې د اشراق د لمانځه له وخته پیل او تر زوال پورې پاتې کېږي.

**یادونه:** لکه چې له پورته معلومات څخه ښکاره شوه چې د اشراق او څاښت د پیل او پای وختونه یو دي، البته په افضل وخت کې یې فرق شته، د اشراق لمونځ ښه دادی چې په اول وخت کې ادا شي، او د څاښت لمونځ افضل دادی چې د ورځې د لومړی څلورمې حصې له تېرېدا وروسته ادا شي، خو که یوه وخت کې هم دواړه لمنځونه کېدلای شي.

## د اوّابِين لمونځ

د ماښام تر فرضو وروسته شپږ رکعته لمانځه ته د خلکو په عرف کې اوابين ویل کېږي (مګر په حقیقت کې د حدیثو له مخې اوابين د ځاښت لمانځه ته ویل شوی).

وخت يې د ماښام له لمانځه وروسته شروع بیا د ماختسن تر داخلیدو پورې دی، البته افضل وخت يې د ماښام تر لمانځه وروسته دی، په ځینو روایتونو کې ددغه لمانځه هم ډېر فضیلت بیان شوی، روایت دی چې چا که دغه شپږ رکعته لمونځ ادا کړ او ددوی په منځ کې یې خبره ونه کړه نو د دوولسو کلونو له عبادت سره يې ثواب برابر دی، د بل روایت مطابق چا که دغه شپږ رکعته وکړل نو د دریاب د ځګ په اندازه ګناهونه به يې وبخښل شي (واړه ګناهونه). **(مرقات، مرعات المفتاح، مجمع الأنهر)**

دغه شپږ رکعته د ماښام د سنت مؤکده په شمول مراد دي، په سنتو کې به د سنتو او په پاتي څلورو کې به د نفلو نیت کوي (المفهوم ان الركعتين الراتبتين داخلتان فی الست) **(مرقاة)**

## تحية المسجد

رسول الله ﷺ فرمايلي: کله چې په تاسو کې کوم يو، مسجدته ننوځي، نو تر هغه دي نه کښيني تر څو چې دوه رکعته لمونځ کوي **(متفق عليه)**

مسجد ته له داخلېدو وروسته دوه رکعته د شکرانې په ډول ادا کول سنت دی، او دې ته تحيّةُ المسجدويل کيږي، که مسجد ته له داخلېدو وروسته په جماعت کې شريک شو، يا يې بل لمونځ يعنې سنت وغيره شروع کړل نو دا د تحية المسجد پر ځای درېږي، او که څوک له لمانځه پرته د بل غرض لپاره مسجد ته داخل شي نو دوه رکعته به خاص د تحية المسجد په نيت ادا کوي.

## تحية الوضوء

رسول الله ﷺ فرمايلی: چا که زما د اوداسه په څېر اودس وکړ، بيا جګ شو او دوه رکعته لمونځ يې وکړ، او په هغه کې يې له لمانځه سره تړکر کومه خبره ونه کړه، نو مخکني ګناهونه به يې معاف شي.**(متفق عليه)**

تحية الوضوء دوه رکعته مستحب لمونځ دی، چې تر اوداسه وروسته اداکيږي، چې په پورتني حديث کې يې فضيلت بيان شو، که څوک

مسجد ته داخل شي، او دومره وخت ولري چې تحية الوضوء او تحية المسجد دواړه ادا کړي نو خو ښه تر ښه، او که يې په دوو رکعتونو کې تحية الوضوء او تحية المسجد د دواړو نيت وکړ، نو ان شاء الله د دواړو لمونځو ثواب به ورته ورسيږي.

## د استخارې لمونځ

کله چې يو مسلمان د يو کار په کولو کې متردد وي، چې ويې کړم که يا، نو ددغسي چا لپاره رسول الله ﷺ د استخارې لمونځ او دعا امت ته ورښوولې ده، چې مختصر بيان يې په لاندې ډول دى:

په حديث کې راغلي چې رسول الله ﷺ به موږ (اصحابو) ته د استخارې داسي ښوونه کوله لکه څنګه چې به يې د قرآن کريم يو سورت را زده کاوه، او فرمايل يې: کله چې تاسي د يوه کار اراده وکړئ، نو دوه رکعته لمونځ به وکړئ، او بيا به دا دعا ووايإست:

اللّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اللّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ (دلته به د خپل کار يادونه وکړي) خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ فَاقْدُرْهُ لِي، وَإِنْ

كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ (دلته به بيا د خپل كار يادونه وكړي) شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، وَ عَاجِلِه وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ (په پاى كې به خپل حاجت بيا ياد كړي).

**فايده:** ښه دا دى چې تر اوو ورځو پورې استخاره وشي، كه بيا هم مطلب نه شو تر لاسه نو استخاره دې تر مطلب پوره كېدو جاري وساتل شي.

**فايده:** په استخاره كې اصل شى د زړه اطمېنان دى، چې له استخارې وروسته زړه كومې خواته رِجحان پيدا كړ، نو هماغه كار دې تر سره شي، ان شاء الله په هغه كې به خير وي، البته ځينو علماوو ويلي چې له استخارې وروسته دې په اوداسه پر راسته اړخ د قبلې طرف ته ويده شي، كه يې په خوب كې سپينوالى يا شينوالى وليده، نو پوه شه چې په دغه كار كې خير دى، او كه يې تور يا سور شى وليدى نو پوه شه چې په دغه كار كې خير نشته بايد ځان ترې وساتې، خو د خوب ليدل يو تخميني شى دى او د زړه د رجحان لپاره معاون ثابتېدلاى شي.

**فایده:** که  کوم طرف ته د زړه رجحان پیدا شي، په هغه باندې عمل ضروري نه دی، یعنې کولای شي چې د هغه خلاف کار وکړي، ځکه د زړه رجحان کوم شرعي دلیل نه دی.

**فایده:** که د استخارې د لمانځه موقع نه وه، نو کولای شي چې یوازې د استخارې دعا وکړي.

**فایده:** زموږ د حنفي مذهب مطابق بهتر دادی چې د استخارې د لمانځه په اول رکعت کې سورة الکافرون او په دوهم کې سورة الاخلاص وویل شي، او له ځینو سلفو څخه بیا لاندې آیاتونه رانقل شوي دي چې دوی به د استخارې په لمانځه کې ویل:

په اوله رکعت کې: وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ سُبْحَانَ اللَّهِ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ. وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ. په دوهم رکعت کې: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا.

## د حاجت لمونځ

صحابي فرمايي چې رسول الله عليه وسلم (يوه ورځ) راووته او داسې يې وفرمايل: څوک که الله تعالى ته يو حاجت لري، او يا له مخلوق څخه يو چا ته محتاج شي، نو اودس او دوه رکعته لمونځ دې وکړي، بيا دې د الله تعالى حمد او ثنا او پر نبي عليه الصلاة السلام درود او وروسته به دا دعاووايي:

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، الْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللَهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلاَمَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، أَسْأَلُكَ أَلَّا تَدَعَ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ، وَلاَ هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ، وَلاَ حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا لِي يَا أَرْحَمَ الراحِمِين بيا دې د خپل حاجت په هکله دعا وغواړي، که هغه حاجت د دنيا اړوند وي او که د آخرت. **(سنن ابن ماجه والترمذي، في العرف الشذي للكاشميري: والحديث قوي)**

زمونږ فقهاوو د حاجت د لمانځه يوه بله طريقه هم رانقل کړې ده، چې د ماخستن له لمانځه وروسته به څلور رکعته په داسې توګه ادا شي چې په اول رکعت کې له الحمدلله وروسته اية الکرسي درې واره وويل شي، او په پاتي دريو رکعتونو په هر رکعت کې به سورة

الاخلاص او معوذتين يو يو وار وويل شي، مشائخو ذکر کړي دي چي مور دغه لمونځ کړی دی او حاجتونه مو ورسره پوره شوي دي. **(شامي، بحر...)**

## د توبې لمونځ

پر دغه امت باندې د الله له مهربانيو څخه يوه همدا ده چې د توبې دروازه يې پرانيستې ده، تر څو چې روح غاړې ته نه وي رسېدلی يا لمر له مغربه نه وي راختلی، او بيا يې داسې عبادت ورته مشروع ګرځولی، چې ګنهګار بنده يې د خپلې توبې د قبولتيا په موخه الله تعالی ته وسيله ګرځوي چې د توبې لمونځ دی.

رسول الله ﷺ فرمايلي: هېڅ يو ګنهګار داسې نشته چې په ښه توګه اودس وکړي، او بيا پورته شي دوه رکعته لمونځ په توجه او خشوع سره اداکړي، او وروسته له الله څخه بخښنه وغواړي، مګر الله به بخښنه ورته وکړي **(سنن أبي داود)**

**د صلاة توبه طريقه:** په تازه اوداسه سره دې دوه رکعته د توبې په نيت لمونځ وکړي، غوره دا دی چې په اول رکعت کی سورة الکافرون، په دوهم کې سورة الاخلاص ووايي، له سلام ګرځولو وروسته دې په ډېر عجز او ګريان بخشه وغواړي، پر خپله ګناه دې ندامت او شرم

محسوس کړي، ځان دې ملامت کړي، کلک عزم به وکړي، چې آینده به بیا ګناه نه کوم، که د کوم بنده واجب حق وي هغه دی ورکړي، د چا چې یې غیبت یا آبرو ریزي کړې وي معافي دې ترې وغواړي.

## د تسبیح لمونځ

د تسبیح لمونځ ډېر اجر لرونکی لمونځ دی، په نفلي لمنځونو کې د تسبیح لمونځ ډېر فضیلت لري، په صحیح حدیث سره ثابت دی، حافظ نیسابوري په «المستدرک» کې صحیح بللی، او علامه ذهبي له سکوت سره سره د حدیث نور شواهد هم وړاندې کړي دي.

د تسبیح لمونځ رسول الله ﷺ حضرت جعفر ته د تحفې په ډول ورښوولی دی، او د ترمذي په روایت کې راغلي چې حضرت عباس ته یې د تحفې په ډول ورښوولی و، چې ددغه لمانځه په کولو ټولې (وړې او غټې) ګناوې معافیږي.

یعني که څوک د صغیره او کبیره ګناهونو د توبې په نیت صلاة التسبیح ادا کړي، نو دا لمونځ به د صلاة توبې پر ځای ورته ودریږي، او صغیره او کبیره ګناهونه به یې الله تعالی معاف کړي ان شاء الله، البته هغه ګناه چې د یو چا حق تر پورې تړلی وي، په هغه کې د توبې د تکمیل

لپاره د صاحبِ حق، حق ورکول ضروري دی، یا مثلا لمونځ او روژه يې پرې ایښي وي، د هغو راګرځول هم لازم دی.

دا لمونځ پر څلورو رکعتونو مشتمل دی، د کولو يې دوې طريقې دي:

## لومړی طريقه:

په اول رکعت کې تر سورت ويلو وروسته او رکوع ته تر تللو مخکې پنځلس واره **سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ"** ويل، بيا په رکوع کې تر سبحان ربي العظيم وروسته لس واره، په قومه کې تر سمع الله لمن حمده ربنا لک الحمد وروسته لس واره، په سجده کې تر سبحانَ ربي الاعلى وروسته لس واره، د دوو سجدو په منځ کې لس واره، په دوهمه سجده کې لس واره، بيا له دوهمې سجدې پورته کېدلو وروسته دې کښيني لس واره تسبيح دې وويل شي، او بيا دې بېله الله اکبر ويلو دوهم رکعت ته پورته شي. همداسې دې دوهم، دريم او څلورم رکعت پسې ادا شي، په دوهم او څلورم رکعت کې تر التحيات مخکې دې لس واره وويل شي. په دې توګه ټول تسبيحات درې سوه کېږي.

## دوهمه طريقه:

په اول رکعت کې  تر ثناء وروسته پنځلس واره تسبيح ويل، او بيا تر سورت وروسته تر رکوع مخکې لس واره، بيا په رکوع، قومه، دوو

سجدو او جلسه کې لس لس واره، له دوهمې سجدې وروسته د الله اکبر په ويلو سره به دوهم رکعت ته پورته شي، او نور پاتې رکعتونه به همداسې پوره کړي، يعني په پاتې دريو رکعتونو کې تر الحمدلله مخکې دې پنځلس واره تسبيح ووايي.

## د شکرانې لمونځ

کله چې يو مسلمان کوم نعمت ترلاسه کړي، يا يو مصيبت ورڅخه ليرې شي، نو دغه مهال پکار دی چې د شکرانې په نيت څو رکعته نوافل وکړي.

د مکې د فتح پر مهال رسول الله ﷺ د حضرت ام هانی وکور ته داخل شو، غسل يې وکړ او په خفيف قرائت سره يې اته رکعته لمونځ ادا کړ، دغه لمانځه ته صلاة الفتح يا صلاة الشکر ويل کيږي، دغه راز چې کله د ابوجهل د مرگ خبر ور ورسيده نو دوه رکعته د شکر لمونځ يې ادا کړ. **(سنن ابن ماجه)**

## د کسوف لمونځ

کسوف د لمر ترنځ نيولو ته ويل کيږي، په روايتونو کې راځي چې کله لمر تياره شو، نو رسول الله ﷺ د ډيرې ويرې په حال کې را ولاړ شو،

څادر يې پسې ښکېده او مسجد ته يې تشريف راوړ، او په ډېره اوږده قيامه، طويله ركوع او سجدې سره يې د كسوف لمونځ ادا كړ، بيا يې وفرمايل:دا د الله تعالی له نښانو څخه يوه نښانه ده، الله پاک بندگان په وېروي، كله چې تاسو دا ووينئ نو د لمانځه، دعاء، استغفار، تكبير او صدقې خوا ته منډه اخلئ، تر هغه چې لمر روښانه كېږي. فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَادْعُوا اللَّهَ وَكَبِّرُوا، وَصَلُّوا وَتَصَدَّقُوا....... فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ...... حَتَّى يُكْشَفَ مَا بِكُمْ..... حَتَّى يَنْجَلِيَ (صحيح البخاري)

د كسوف لمونځ، يعنې هغه لمونځ چې د لمر د ترنځ نيولو پر مهال ادا كېږي، د نورو نفلي لمنځونو په ډول لمونځ دی، په جماعت سره كول يې ثابت دی، كله چې لمر تياره شي نو لږ تر لږه دوه ركعته كول سنت مؤكد دي، غوره څلور ركعته دي، تر دې زيات هم جائز دي.

افضل دا دی چې په جماعت او په اوږد قرائت، طويله ركوع او سجده سره ادا شي، خو كه يې هر څوک ځانته وكړي هم روا دی، ښځې يې په كورونو كې ادا كړي.

قرائت پكې كرار ويل بهتر دی، خو په جهر سره يې هم ويلای شي.

تر لمانځه وروسته دې تر لمر روښانه كېدو پورې په دعا مشغوله شي، كه دغه مهال لمر غروب وكړ، نو د ماښام لمانځه ته دې ولاړ شي.

که د کسوف په وخت کې جنازه حاضره شي، نو د جنازې لمونځ دې ادا شي. په دغه لمانځه کې کومه خطبه وړاندې یا مخکې نشته، البته د موقع په مناسبت مختصره تذکره کېدلای شي.

## د خسوف لمونځ

د سپوږمۍ تیاره کېدو ته خسوف وایي، د خسوف په هکله هم رسول الله ﷺ هماغه هدایت فرمایلی چې د کسوف په هکله یې فرمایلي و.

د خسوف په وخت کې هم دوه رکعته نفل په انفرادي ډول سنت دی، یعني جماعت نشته پکښې، د عامو نوافلو په ډول ادا کېږي، یوازې د خسوف د لمونځونو نیت به پکې کوي. (وَأَمَّا الْجَمَاعَةُ فِي صَلَاةِ الْخُسُوفِ ظَاهِرُ كَلَامِ الْجَمِّ الْغَفِيرِ مِنْ أَهْلِ الْمَذْهَبِ كَرَاهَتُهَا) **شامي**

**یادونه:** لکه څنګه چې د لمر او سپوږمۍ د تیاره کېدو په وخت کې دوه رکعته نفل کېږي، همداسې د الله پاک د نورو نښانو د ښکاره کېدو او وېرې په حال کې لکه دزلزلې، سختو تندرونو، تېز باران او ږلۍ، تېزو بادونو، توپانونو او د دښمن د وېرې په وخت هم باید دا لمونځ ادا شي،

ځکه دا ټولې د بنده ګانو وېرووونکې نښانې دي، تر څو بنده ګان د الله پاک اطاعت ته رجوع وکړي، چې په دې کښې ددوی کامیابي او برى دی، او الله ته د ډېر نږدې کېدو حالت لمونځ دی.

## د استسقاء لمونځ

د سختي وچکالي پر مهال چې باران ته زیات ضرورت محسوس شي، نو دغه وخت دوه رکعته مستحب لمونځ ادا کېږي، او همدا د استسقاء لمونځ دی.

د استسقاءحقیقت دعا او استغفار دی، کله چې باران نه وي، نو خلک باید استغفار او توبې ته مخه کړي، زکات ادا کړي، د نورو حقوق خپلو حقدارانو ته ورسوي. د استسقاء د لمانځه لپاره باید ورځ مشخصه کړل شي، او ټول خلک به په اخیري اندازه تواضع او عاجزي یوې دښتې او صحراء ته ووځي، هلته به دوه رکعته جـــهري لمونځ له اذان او اقامت پرته، په جماعت سره ادا کړي.

له لمانځه وروسته به امام پر ځمکه ولاړ خطبه ووایي، او وروسته دې په ډېره عاجزي توبه، استغفار او دعا وغوښتل شي، او وروسته دې یوازې امام خپل څادر واړوي، بس همدومره. **(هندیه)**

د څادر اړول د نېک فالي لپاره کېږي، اړول که هر ډول وي فرق

نلري، د لاندې خوا لوړه او لوړه لاندې، یا راسته طرف چپ او راسته چپ کړل شي، یا چې څه ډول پر ځان اچول شوی وي اوس دې دا بل طرف واچول شي.

**یادَونه:** د استسقاء لپاره یوازې دعا هم ثابته ده او لمونځ هم، لمونځ په جماعت، انفرادي، جهري، سري په ټولو صورتونو جائز دی، البته په جماعت سره بهتر دی، په اول رکعت کې سورة الاعلی، او په دوهم کې سورة الغاشیه ویل له رسول الله ﷺ څخه ثابت دی.

تمت بالخیر والحمد لله عدد خلقه ورضا نفسه وزنة عرشه ومداد کلماته
والصلاة والسلام علی رسوله مثل ذلك